آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۶/۱۴

# د مرګ بزنس او يوه لنډه يادونه

د يوې ټولنې په وګړو کې چې سواد، کتابلوستنه، ښونځی، پوهنځي، پوهه، کار، تعليم او توليد نه وي، پر هغوی باندې هر ډول ناخوالې راتلای شي، دا خلک به داسې کارول کيږي لکه نانځکې. د سواد، زدکړو، پوهې او توليد د نه شتون په صورت کې د هغې ټولنې وګړي په موهوماتو کې ژوند کوي، د توليد په فکر کې نه وي، لاس يې تل نورو ته غځيدلی وي، هر څه سرنوشت او تقدير ته سپاري. د همدې دلايلو له مخې تل له رنګارنګ نا خوالو سره لاس ګريوان وي، لکه همدا اوس چې زموږ د ټولنې ډيری خلک ور سره لاس ګريوان دي.
توله نړی په بزنس اخته ده او افغانان هم، خو توپير يې په دې کې دی چې نور خلک او نوره نړی د ژوند له پاره بزنس کوي، موږ افغانان يې د مرګ له پاره کوو. ژوند د خدای لوی نعمت دی، خو تجربې ښودلې ده چې زموږ ځينې وطنوال د دې نعمت پروا نه ساتي او هره ورځ يې په ذهن کې د ژوند منفي اړخونه ګرځي راګرځي، د همدې له پاره په منفي ډول هره ورځ، لا هر ساعت دا پوښتنې مطرح کوي:
ـ څوک مريضان دي چې پوښتنې ته يې ورشو،
ـ څوک مړه دي چې جنازې ته يې ورشو،
ـ د چا دعا ده چې لاس ور ته پورته کړو،
ـ څوک په سرطان اخته شوي دي،
ـ چيرې بم او چاودنه شوې ده ،
ـ د چا پر لور او ښځې تيرى شوى دى،
ـ د چا اولاد تښتول شوى دى او...
ټولنيز روابط ډير ښه دي، خو نه داسې چې ته هره ورځ پوښتنه کوه چې چيرې مړی شوی او چيرې چاودنه شوې.
د يويشتمې پيړی د دغه کال (۲۰۱۶) د خدای دغه ټيپ مخلوقاتو يوه ورځ و نه ويل چې:
ـ کوم ښونځی يا کوم پوهنځی تر نورو دا ښه دی چې موږ او زموږ نوی نسل په کې درس پيل کړي،
ـ يوه ورځ يې دا پوښتنه مطرح نه کړه چې د چا زوی يا لور له کوم پوهنځي نه په کومه درجه خلاص شوی، ـ په يوه مجلس کې هم دا پوښتنه و نه شوه چې کوم څه چيرې چا اختراع کړي، ولې يې هغوی کولای شي او موږ يې نه شو کولای؟
ـ هيڅکله يې و نه ويلې چې د خدای له مخلوق نه ژوند اخستل، د خدای مخلوق آزارول څومره لويه او نه بښونکې ګناه ده،
ـ يوه ورځې هم و نه ويل شول چې د نوي نسل روزنه او د تمدن له نوي کاروان سره يې يو ځای کول د اوسني وخت تر ټولو مهمه او لومړنی غوښتنه ده او بايد موږ يې تر سره کړو،
او يوه ورځ يې هم و نه ويلې چې...
زموږ ګران اسلام يې د ژبې پر سر ليکلی دی، خو اعمالو ته يې چې ګورې ټول يې د اسلام د سپيڅلي دين له اساساتو سره په ضديت کې دي او د ژوند د اساساتو پر خلاف دي.
ځينې کسان په عام ډول وايي چې کيدای شي د نړی خلک په دريو برخو و ويشل شي:
پاسنی برخه، منځوی برخه او ښکتنی برخه:
ـ پاسنی طبقه د خپلو ستراتيژيکو موخو د تطبيق له پاره وسلې جوړوي او تر څنګه يې ښې ډيری پيسې تر لاسه کوي،
ـ منځوی طبقه د همدې جوړو شوو وسلو بزنس کوي، خپلو هدفونو ته د رسيدو په خاطر هلې ځلې کوي او د خپلې هوښيارتيا په اندازه شتمنې لاسته راوړي،
ـ لاندنی يا ټيټه او بې عقله طبقه دغه وسلې د خپلو لاس لرلو شتو په بدل کې اخلي، په بيلابيلو نومونو ځان هم بربادوي او نورو ته هم مرګ ژوبله او ضررونه و خطرونه پيښوي.
زموږ ډيری وطنوال دا شاو خوا څلويښت کاله کيږي چې په دريمه پوړی خلکو کې لاس و پښې ښوروي او د يو مبهم څه د تر لاسه کولو په خاطر يې هم ځان تباه کړی، هم دا نسلونه او هم يې راتلونکي نسلونه برباد کړي؛ وطن، تاريخ، جغرافيه او هر څه يې د بربادی د باد پر وزرو سپاره کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یوه تیز بینه قلموال دا ښکلي او طنزیه جملې مې چیرې له نظره تیرې شوې چې د پاسنیو خبرو یو ښه کمیک او ژړاند تصویر کیدای شي:

«د استقلال غوښتني سرباز:

نیمه پیرۍ له امریکا سلاح اخلو چې روسان مات کړو، بله نیمه پیرۍ له روسانو سلاح تر لاسه کوو چې د امریکا پر ضد وجنګیږو.
اوس داسې ښکاري چې موږ د پیل کرې جګړې، د لومړۍ پیرۍ د دویمې نیمايي په پیل کې یو، خو په رښتیا نه شم کولای وړاند وینه وکړم چې نیمه پیرۍ وروسته به له چینایانو نه وسله واخلو که نه.»

پام مو وي چې نړۍ، تکنالوژي او نړیوالي هر اړخیزې اړیکي د بریښنا په څیر منډې وهي او بدلیږي؛ که موږ د منډو توان پیدا نه کړو، لکه چې اوس وروسته پاتي او د تېل شوې جګړې په دام کې نښتي یو، همداسې به نور هم له ستونزو سره لاس ګریوان، ځای پر ځای ولاړ یو؛ او ولاړې اوبه خوسا کیږي.
که د پوهې، ژوند او تمدن کاروان ته د رسیدو په غرض د حرکت او منډو تکل وکړو، نو دا منډې او د پوهې، ژوند او تمدن کاروان ته رسیدل یوازې د تعلیم او پوهې په ارابه کیدای شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ